**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست**

**د دفتر ریاست**

**د متحد المال ګڼه: دویم** **نیټه: ١٤٤٥/١/٢٨**

د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست، په اړونده قانون کې د لیکل شویو دندو او واکونو د تعمیل په موخه، د دې ادارې د ۱۴۰۲ هـ ل کال د تشکیل طرحه، چې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام څخه منظور شوې، ترتیب کړې ده. له دې کبله، په قانون کې د لیکل شویو دندو او واکونو د اعمال، د منظور شوي پلان له مخې د نظارت او بررسۍ او د وزارتونو د ثانوي او ثالثي واحدونو، خپلواکو امارتي ادارو او له امارتي مراجعو سره تړاو درولدونکي خصوصي سکتور د اجراأتو له قانونیت څخه د نظارت په موخه، د ولایتونو د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت ملکي ریاستونو ته په لاندیني مواردو سره لارښوونه کېږي:

1- د وزارتونو د ثانوي واحدونو او خپلواکو امارتي ادارو څخه د نظارت په موخه، د ولایتونو د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت ټول ملکي ریاستونه دې خپلې لومړۍ، دویمې او دریېمې کمېټې چې د ۱۴۰۲ هـ ل کال په منظور شوي تشکیل کې شاملې دي، له دې متحدالمال سره د مل جدول له مخې په فرعي نظارتي کمېټو وویشي.

2- د ولایتونو د ملکي ریاستونو د اداري فساد د قضیو د تحلیل او تعقیب آمریتونه دې خپل اجراأت د ۱۴۴۵/۱/۲۷ هـ ق کال د لومړي ګڼه متحدالمال د څلورم بند د لومړۍ، دویمې او دریېمې فقرې له مخې تنظیم کړي.

3- د محکمو د قطعي حکمونو د تطبیق او د آزادۍ د سلبونکو ځایونو د نظارت آمریت دې خپل اجراأت د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست د قانون د اتمې او نهمې مادې له حکمونو سره سم تنظیم کړي.

4- د کشفي مراجعو پر قانونیت نظارت او د ولایتونو د امنیه قوماندانۍ او د استخباراتو د ریاست اړونده نظارت خونو کې د شکمنو د حقوقو له رعایت څخه ډاډ ترلاسه کول ،د پولیسو د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب ریاست/آمریت او د استخباراتو د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب ریاست/آمریت له دندو څخه دي او په ولایتونو کې د زندانونو چارو د تنظیم ادارې ثانوي واحدونو نظارت د محکمو د قطعي حکمونو د تطبیق او د آزادۍ د سلب ځایونو د نظارت د آمریت له دندو څخه دی.

5- د ولایت په مقام کې اجراأتو د قانونیت څخه څارنه، ، د فرمانونو، حکمونو او هدایاتو تعقیب د اړونده ولایت د ملکي رئیس له ځانګړو دندو څخه دی.

**په درناوي**

**مولوي شمس الدين "شريعتي"**

**د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقیب لوی ریاست سرپرست**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.